بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو قانون

رسمي جريده ګڼه (۶۴۹)
نېټه۱۳۶۶/۷/۳۰ هـ . ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

**خواننده گرامی!**

افتخار داریم که بعد از نشر"مجموعه قوانین افغانستان" با شیوهٔ تنظیم موضوعی، اکنون به‌خاطر سهولت بیشتر در دسترسی شما به قوانین مورد نیاز، سلسلهٔ دیگری از قوانین نافذهٔ کشور را با قطع کوچک جیبی در اختیار شما قرار می دهیم.

**ښارنپوه حبیب الله "غالب"**

**وزیر عدلیه**


**نام:** قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

**ناشر:** وزارت عدلیه جمهوری اسلامی افغانستان

**تهیه و ترتیب:** ریاست نشرات

**مدیر پروژه:** قانونمل محمد رحیم"دقیق" سرپرست ریاست نشرات

**تدارکات واداری:** سید محمد هاشمی رئیس امور مالی و داری و احمد خالد عزیزی معاون واحد پروژه بانک جهانی در وزارت عدلیه

**طراح جلد وصفحه‌آرا:** امان الله صداقت(غیبی)، عباس رسولی و حسین امینی

**مصححین:** نورعلم خان، حلیم سروش، محمد رفیع عمری و احسان الله نیکزاد

**مشاورین:** اسماعیل حکیمی و محمد یما قاسمیار

**تاریخ نشر:** ۱۳۹۰

**تیراژ:** ؟

**چاپ:** اول (قطع جیبی)

**قیمت:** ۳۰ افغانی

**مطبعه:** مطبعه طباعتی وصنعتی احمد

**تلفن ریاست نشرات:** ۰۷۰۰۰۵۸۷٤٥۷

**ویب سایت:** www.moj.gov.af


**کلیه حقوق چاپ برای وزارت عدلیه محفوظ است.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو فهرست

# د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو قانون

**لومړی فصل: د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد جرمونه**.......... ۱۱
وطن ته خیانت (ملی خیانت).......... ۱۱
جاسوسی.......... ۱۲
ترور.......... ۱۲
ورانکاری.......... ۱۳
سبو تاژ .......... ۱۳
د دولت پر ضد تبلیغ.......... ۱۴
د جګړی تبلیغ.......... ۱۴
د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد سازمانی فعالیت.......... ۱۴
له بهرنیو هیوادونو سره د افغانستان د دیپلوماتیکو اړیکو پر ضد جرمونه .......... ۱۵
**دوهم فصل: د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد نور جرمونه**.......... ۱۵
د ملی مذهبی او نژادی حقوقو برابری نه په پام کی نیول.......... ۱۵
د وسله وال پوځ دجزوتامونو پخپل سره سوق او اداره .......... ۱۶
دولتی اسرار افشا کول .......... ۱۶
د دولتی اسرار لرونکو سندونو ورکیدل .......... ۱۶
وسلی سره لوټول (باندیتیزم).......... ۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

یرغمل نیول........................................................................۱۷
د نړیوالو الوتنو مقررات نه په پام کی نیول...............................۱۷
د عامه تأسیساتو غیر قانونی نیول........................................۱۸
د پیسو او ارزښت لرونکو پاڼو جعل کول او رواج کول یی.........۱۸
دولتی ضد سازمانونو ته د پیسو او مادی مرستو راټولول........۱۸
د جګړی په وخت کی غیر قانونی سوداګری..............................۱۹
د جګړی په وخت کی د ژمنو له تر سره کولو څخه ډډه کول........۱۹
د دښمن له پوځ سره مرسته کول...........................................۲۰
دولتی بیرغ او نښان ته سپکاوی............................................۲۰
د اخلاقی فساد په منظور د شیانو برابرول او خرڅول ..............۲۰
د فرهنګی او لرغونو اثرونو څخه ناروا ګټه اخیستل او غلا کول۲۰
د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد جرمونو په هکله خبر نه ورکول ۲۱
د دولتی ضد جرمونو او د ملی ګټو پر ضد د نورو جرمونو پټول۲۱
له دی قانون سره سم له جزایی مسئولیت څخه معافیت............۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست دری

## قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

**فصل اول: جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان**..........۲۷
خیانت بوطن (خیانت ملی)..........۲۷
جاسوسی..........۲۸
ترور..........۲۸
خرابکاری..........۲۹
سبوتاژ..........۲۹
تبلیغ علیه دولت..........۳۰
تبلیغ جنگ..........۳۰
فعالیت سازمانی بر علیه امنیت داخلی و خارجی..........۳۱
جرایم علیه مناسبات دیپلوماتیک افغانستان با کشورهای خارجی..........۳۱
**فصل دوم: سایر جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی**..........۳۲
نقض تساوی حقوق ملی، مذهبی و نژادی..........۳۲
سوق و اداره خود سرانه جزو تامهای قوای مسلح..........۳۲
افشای اسرار دولتی..........۳۳
مفقودی اسناد حاوی اسرار دولتی..........۳۳
غارت مسلحانه (باند یتیزم)..........۳۳
گروگان گیری..........۳۴
نقض مقررات پروازهای بین المللی..........۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشغال غیر قانونی تأسیسات عامه ........................................ ۳۴
جعل پول و اوراق بهادار و ترویج آن.................................. ۳۵
جمع آوری پول و کمک مادی به سازمانهای ضد دولتی............ ۳۵
تجارت غیر قانونی در زمان جنگ........................................ ۳۶
تعلل از اجرای تعهدات در زمان جنگ .................................. ۳۶
مساعدت به قوای دشمن ..................................................... ۳۷
توهین به بیرق و نشان دولتی ................................................ ۳۷
تهیه و فروش اشیاء بمنظور فساد اخلاقی.............................. ۳۷
سوء استفاده و سرقت آثار فرهنگی و باستانی......................... ۳۸
عدم اطلاع دهی در مورد جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی.... ۳۸
اخفای جرایم ضد دولتی و سایر جرایم علیه منافع ملی............ ۳۸
معافیت از مسئولیت جزایی بر طبق این قانون ......................... ۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان دموکراتيک جمهوريت دانقلابي شوري د رئيسه هيأت فرمان
## کابل ښار

**ګڼه : ۱۵۳**
**نېټه : ۱۳۶۶/۵/۱۰**

دافغانستان دموکراتيک جمهوريت د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو د قانون د تصويب په هکله
د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د انقلابي شوري رئيسه هيأت د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو په هکله د قانونيت دټينګښت او د جزائي حکمونو د لاښه تنظيمولوپه منظور د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د اساسي اصولو د (۴۴) مادې د حکم پر بنسټ تصويبوي:

**لومړۍ ماده:**
د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو قانون په دوو فصلونو او دېرشو مادو کې تصويب دی.
**دوه يمه ماده:**
د (۲۵ او ۲۶) موادو څخه پرته د دې قانون د مندرجو جرمونو تحقيق د دولتي امنيت د وزارت د تحقيق د ارګانونو له لارې صورت نيسي.
د دې قانون د لومړي مادې د جرمونو تحقيق د عسکري جرمونو د قانون د تصويب په هکله د افغانستان د موکراتيک جمهوريت د انقلابي شوري د رئيسه هيأت د ۱۳۶۴/۱۱/۹ نېټې د (۱۷۷) ګڼه فرمان د دوه يمې مادې د مندرج واک په حدود کې د اړوندو ارګانونو لخوا صورت نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**درېیمه ماده:**

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د عدلیې وزارت د دولتي امنیت وزارت او د حقوقو د ساتنې له نورو ارګانونو سره یوځای ددې قانون سره سم دیوې میاشتې په موده کې د جرمونو د کشف او تحقیق او د هغه د تطبیق پر قانونیت باندې د څارنوالۍ د څارنې د قانون د تعدیل طرح برابر کړي او د انقلابي شوري رئیسه هیأت ته تصویب لپاره دې وړاندې کړي.

**څلورمه ماده:**

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د عدلیې وزارت دنده لري د پنځلسو ورځو په بهیر کې د جزاء د قانون د هغو موادو فهرست چې د دې قانون په نافذیدوسره لغو کیږي برابر کړي او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شوري رئیسه هیأت ته دې وړاندې کړي.

**پنځمه ماده:**

دا فرمان د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د کورني او بهرنی امنیت پر ضد جرمونو له قانون سره یو ځای تصویبیږي او په رسمي جریده کې له خپریدو وروسته دې نافذ شي.

**حاجي محمد څمکنی**

**د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شوري د رئیسه هیأت**

**د صدر د مقام سرپرست**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی فصل

## د افغانستان د موکراتیک جمهوریت د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد جرمونه

**لومړۍ ماده:**

**وطن ته خیانت (ملی خیانت):**

۱- د وګړنیز حاکمیت، صیانت، ځمکنی بشپړتیا د خپلواکی د حق او د هیواد د ملی امنیت او دفاعی وړتیا پر ضد د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د تبعی عمدی کړه وړه دی چی عبارت دی له:

- دښمن سره پیوستون، د وګړنیز حاکمیت پر ضد وسله واله فعالیت، جاسوسی، د ځواکونو تسلیمول، د وسلی، جګړه ایز تخنیک، استحکاماتو او د جګړی د پر مخبیولو د نورو وسیلو پریښودل، هیوادونو، یا د دولتی ضد سازمانونو او یا ډلو ته د دولتی او نظامی اسرار لرونکو معلوماتو په واک ایښودل.

- بهرنیو هیوادونو یا د دولتی ضد سازمانونو یا ډلو سره د افغانستان دموکراتیک جمهوریت پر ضد د هغوی د دښمن ډولو فعالیتونو په تر سره کولو کی ګډې هلی ځلی او مرستی.

- د دولتی قدرت د تر لاسه کولو په منظور توطئه.

- وطن ته د خیانت د جرم مرتکب د دوام په بند یا اعدام او د شتمنی د مصادری په جزا محکومیږی.

۲- که د افغانستان دموکراتیک جمهوریت تبعه چی په دغه ماده کی د مندرجو جرمونو د ارتکاب قصد ولری یا د دغو جرمونو ارتکاب ته په اکراه سره اړ شوی وی د ارتکاب او تعقیب څخه د مخه دولتی مقاموته په خپله خوښه خبر ورکړی له جزا څخه معاف کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهمه ماده:**

**جاسوسي:**

بهرني دولت، دولتي ضد سازمان یا ډلي یا د هغوی ګمارل شویو کسانو ته د تسلیمولو په منظور د دولتي اسرار لرونکو معلوماتو سپارل یا غلا کول او یا ټولول، همدغه راز د بهرنیو اطلاعاتو د خدماتو د ارګانونو په لارښودنه د هغو نورو معلوماتو ټولول او سپارل چي دافغانستان دموکراتیک جمهوریت پر ضد ورځني کار واخیستل شي، پدی شرط چي دغه عملو نه د بهرني تبعي او تابعیت نه لرونکو کسانو لخوا تر سره شي مرتکب یي د دوام بند یا اعدام او د شتمني د مصادري په جزا محکومیږي.

**دریمه ماده:**

**ترور:**

۱- چا چي دولتي، سیاسي، ټولنیز، مذهبي شخصیت د دولت استازي او د قوم قبیلي او ملیت مشران دهغوی د دولتي یا ټولنیزو دندو له امله د وګړنیز حاکمیت د ورانولو یا کمزوري کولو په خاطر وژني مرتکب یي د دوام بند او یا اعدام او د شتمنیو د مصادري په جزا محکومیږي.

۲- که د دغي مادي په (۱) فقره کي مندرج شخص د هغه هدف له امله چي پکښي لیکلي شوي ده تر ځاني یاروانی فشارلاندي واقع شي مرتکب یي له دري نه تر لس کاله پوري د بند په جزا محکومیږي.

**څلورمه ماده:**

۱- که د بهرني دولت استازي جګړي ته د راپارولو یا له نورو هیوادونو سره د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په دیپلوماتیکو اړیکوکي د خړپړتیا د منځته راوړلو په منظور ووژل شي مرتکب یي ددوام بند اویا اعدام او دشتمنیو دمصادرې په جزا محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که د بهرنی دولت استازی په پورتنی فقره کی د مندرج هدف له امله تر ځانی یا روانی فشار لاندی واقع شی مرتکب یی له دری ځخه تر لس کاله پوری د بند په جزا محکومیږی.

**پنځمه ماده:**

**ورانکاری:**

۱- که څوک د وګړنیز حاکمیت او ملی اقتصاد د کمزوری کولو په منظور د چاودنی، اویا نورو وسیلو سره مؤسسی، مواصلاتی کرښی ترانسپورتی مخابراتی وسیلی او یا نور دولتی، ټولنیز، کوپراتیفی او ګډ یا شخصی مالونه وران کړی یا تاوانی کړی یا د اپیدیمی ناروغیو د خپرولو یا د کتلوی مسمومیت باعث وګرځی له لسو ځخه تر شلو کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.
۲- که د دغی مادی د (۱) فقری د مندرجو عملونو د ارتکاب له امله ځانی تلفات منځته راشی یا دایمی معلولیت پیښ شی یا اقتصادی لوی تاوانونه یا نور خطرناک عواقب رامنځته شی مرتکب یی د دوام په بند یا په اعدام محکومیږی.

**شپږمه ماده:**

**سبو تاژ:**

۱- که څوک د عمدی یا بیله عمدی عمل سره د مؤسسو، ادارو، ټولنیزو یا خصوصی سازمانونو ځخه په کار اخیستلو سره د دولتی قدرت، صنعت، سوداګری، ترانسپورت، کرنی، مالداری، مالی نظام د مخابراتو د وسیلو او د ملی اقتصاد د نورو ځانګو یا د دولتی ارګانونو، ټولنیزو، کوپراتیفی او ګډو یا خصوصی سازمانونو د فعالیتونو د کمزوری کولو په منظور مختل کړی یا د هغوی له عادی فعالیتونو ځخه مخنیوی وکړی احوال سره سم له دریو ځخه تر لسو کالو پوری د بند په جزا محکومیږی.
۲- که د نوموړو عملونو په نتیجه کی ملی اقتصاد ته لوی تاوان او صدمه پیښ شی مرتکب یی د دوام د بند په جزا محکومیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوومه ماده:**

**د دولت پر ضد تبلیغ:**

۱- چا چې د خپل هدفونو د تأمینولو او د وګړنیز حاکمیت د کمزوری کولو په منظور په قصدي توګه اخبار اعلامیې، د رواغې ځرګندوني او مغرضانه افترآآت خپرې کړي یا په هره وسیله چې وي په لمسوونکې پروپاګند یا شفوی او لیکلي تبلیغ لاس پوری کړي یا دغه راز خپروني پخپل واک ولري د منځني بند په جزا محکومیږي.

۲- که د دغې مادې مندرج عملونه د عامه نظام د ګډوډي او د دولتي ارګانونو، مؤسسو، سازمانونو، ادارو د عادي کار په بهیر کې د ګډوډۍ باعث شي یا په وراني، تالاکولو او اور اچوني تمامه شي او یا د دغو جرمونو ارتکاب د دولتي ضد ډلو سره او یا د افغانستان د دولت دښمن بهرني دولت سره د مخابراتي تماس یا د اړیکو د نورو وسیلو نتیجه وي مرتکب یې د اوږد بند په جزا محکومیږي.

۳-که د دغې مادې د مندرجو عملونو د ارتکاب په نتیجه کې د عامه نظم ګډوډي رامنځ ته شي یا ځاني تلفات منځته راشي مرتکب یې د دوام د بند یا اعدام په جزا محکومیږي.

**اتمه ماده:**

**د جګړې تبلیغ:**

چا چې جګړه په هره بڼه چې وي تبلیغ کړي احوال سره سم د منځني بند په جزا محکومیږي.

**نهمه ماده:**

**د کورنی او بهرنی امنیت پر ضد سازمانی فعالیت:**

۱- چا چې د دې قانون د لومړي فصل د مندرجو جرمونو د ارتکاب په منظور د ټولنې، هیأت یا ډلې په نامه پټ سازمان تأسیس، تنظیم یا یې اداره کړي د دوام بند په جزا محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- چا چې د دغې مادې د (۱) فقرې يو د مندرجو سازمانونو يا د هغه د څانګو د يوې څانګې غړيتوب تر لاسه کړي د اوږد بند په جزا محکوميږي.
۳- چا چې پخپله يا د بل چا په واسطه د دغې مادې د (۱) فقرې د مندرجو سازمانونو د څانګو له يوې څانګې سره د ناروا هدفونو د تأمين په منظو اړيکه ټينګه کړي يا د نورو کسانو د هڅونې يا د ځاني او رواني فشار څخه په کار اخستلو سره دويرې سبب شي احوال سره سم د اوږد بند په جزا محکوميږي.

**لسمه ماده:**

**له بهرنيو هيوادونو سره د افغانستان د ديپلوماتيکو اړيکو پر ضد جرمونه:**

که د چا کړه وړه له بهرنيو هيوادونو سره د افغانستان متقابلې اړيکې په يو ډول سره زيانمن او تاواني کړي له دريو څخه تر لسو کالو پورې د بند په جزا محکوميږي.
که د چا کړه وړه د بهرنيو هيوادونو او افغانستان تر منځ د ديپلوماتيکو اړيکو د قطع کيدو باعث وګرځي مرتکب يې د دوام بند په جزا محکوميږي.

## دوهم فصل

## د کورني او بهرني امنيت پر ضد نور جرمونه

**يوولسمه ماده:**

**د ملي مذهبي او نژادي حقوقو برابرۍ نه په پام کې نيول:**

۱- چا چې د دښمنۍ د راپارولو او د ملي، نژادي، مذهبي، او ټبريز او لساني اختلافونو په مقصد په تبليغ او ترويج لاس پورې کوي يا د قومي، ملي نژادي، مذهبي، ټبريز او لساني اړيکو پر بنسټ د اتباعو د حقوقو په محدودولو يا د توپيرونو په تأمينولو لاس پورې کړي تر دريو کالو پورې د منځنۍ بند په جزا محکوميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- په هغه صورت کې چې دغه راز کړه وړه د اوسيدونکو تر منځ د بلوا يا ګډوډۍ باعث وګرځي مرتکب د اوږد بند په جزا محکوميږي.

**دوو لسمه ماده:**

**د وسله وال پوځ دجزوتامونو پخپل سره سوق او اداره:**

چا چې په جرمي قصد سره د وسله وا ل پوځ د جزوتامونو او قطعاتو او د جګړه ييزې الوتکې قيادت د واکمن مقام د امر څخه پرته او د روا سبب څخه پرته په غاړه واخلي يا له قيادت څخه د منع کولو په هکله د دولت د امر له صادريدو سره سره خپل عمل ته ادامه ورکړي يا دا چې د وسلې د پريښودنې په باب د واکمن مقام د امر له صادريدونه وروسته د وسله وا ل پوځ د جزوتام قوماندان خپل تر لاس لاندې سرتيري مسلح کړي او په راټول شوي حالت وساتي د دوام بند او يا اعدام په جزا محکوميږي.

**ديارلسمه ماده:**

**دولتي اسرار افشا کول:**

۱- چا چې دولتي اسرار چې د دندې په توګه ورسپارل شويده يا د دندې د اجرا په وخت کې پرې پوه شويده وطن د خيانت له قصد لرلو څخه پرته افشاء کړي د منځنې بند په جزا محکوميږي.
۲- په هغه صورت کې چې د دغې مادې د (۱) فقرې مندرج عمل په اقتصادي، سياسي او نظامي ډګرونو کې د افغانستان د موکراتيک جمهوريت ته درونه عواقب منځته راوړي مرتکب يې د اوږد بند په جزا محکوميږي.

**څوارلسمه ماده:**

**د دولتي اسرار لرونکو سندونو ورکيدل:**

۱- چا چې دولتي اسرار لرونکې سندونه يا هغه شيان چې د دولتي اسرارو له جملې څخه دي او د دندې په توګه ورسپارل شوي وي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغو د ساتنې او څارنې د مقرراتو د نه په پام کې نيولو په اساس ورک کړې احوال سره سم د منځنۍ بند په جزا محکومېږي.

۲- که د پورتنۍ فقرې مندرج جرم دروند عواقب منځته راوړي مرتکب د اوږد بند په جزا محکومېږي.

**پنځلسمه ماده:**

**وسلې سره لوټول (باندیتيزم):**

پر مؤسسو، دولتي، ټولنيزو ادارو، خصوصي، سهامي، ګډ، کوپراتيفي او د وګړو پر اقتصادي تأسيساتو باندې د تالاډاو تاواني کولو په منظور وسله و ا ل ير غل سازمانول په وسله والو ډلو کې د شرکت کولو په شمول باندیتيزم ګڼل کيږي او مرتکب يې د دوام بند او يا اعدام په جزا محکومېږي.

**شپاړسمه ماده:**

**يرغمل نيول:**

۱- که څوک نور کسان په ګواښ او جبر او يا د نورو وسيلو نه په هره وسيلې سره يرغمل ونيسي د اوږد بند په جزا او د هماغه مال يا بيه يې او يا هغه ګټه چې تر لاسه کړې وي په بيرته ورکولو يې محکومېږي.

۲- که يرغمل شوی شخص ټپي معلول او يا ووژل شي مرتکب يې د دوام بند يا اعدام او د هماغه مال يا بيه يې او يا د هغې ګټې په مستردولو محکومېږي چې لاس ته راوړې وي.

**اووه لسمه ماده:**

**د نړيوالو الوتنو مقررات نه په پام کې نيول:**

که د افغانستان دموکراتيک جمهوريت د فضا له لارې څخه ننوتل او وتل له رسمي اجازې څخه پرته او همدغه راز د مجازو مشخصو تګلارو، د کښته کيدو د ځايونو، هوايي دروازې، د الوتنې جګوالې په هکله د نه پاملرنې يا د نړيوالو الوتنو له مقرراتو څخه نورې سر غړونې صورت ونيسي مرتکب يې د منځنۍ بند په جزا محکومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتلسمه ماده:**

**د عامه تأسيساتو غير قانوني نيول:**

چا چې له زور څخه په کار اخيستلول سره د دولتي ودانيو مؤسسو او نورو ځايونو په نيولو چې د عامو ګټو په منظور جوړشوي دي لاس پوري کړي احوال سره سم د اوږد يا دوام بند په جزا محکوميږي.

**نولسمه ماده:**

**د پيسو او ارزښت لرونکو پاڼو جعل کول او رواج کول يي:**

۱- که چا په افغانستان کي مروجي پيسي ارزښت لرونکي سندونه يا بهرني اسعار په هر کيفيت چي وي جعل کړي د دوام بند په جزا محکوميږي.

۲- هغه چا چي د علم په لرلو سره جعلي پيسي يا ارزښت لرونکي پاڼي رواج کړي يا وچلوي يا د رواج کولو يا چلولو په قصد يي په خپل واک کي ولري د اوږد بند په جزا چي له لسو کالو څخه زياته نه وي محکوميږي.

۳- چا چي د علم لرلو سره سره يا د بل چا په واسطه جعلي پيسي يا ارزښت لرونکي پاڼي افغانستان ته داخل يا وباسي د اوږد بند په جزا محکوميږي.

۴- چا چي آلي، ادوات او وسيلي د پيسو يا ارزښت لرونکو پاڼو د جعل کولو په منظور جوړ کړي يا په کار واچوي يا يي وپلوري يا يي خرڅلاوته وړاندي کړي يا يي په اجاره ورکړي او يا په خپل واک کي ولري د اوږد بند په جزا چي له لسو کالو څخه کمه نه وي محکوميږي.

**شلمه ماده:**

**دولتي ضد سازمانونو ته د پيسو او مادي مرستو راټولول:**

چا چي پخپله يا د بل چا په واسطه په يو ډول سره د دي قانون د مندرجو موادو د جرمونو د ارتکاب په منظور له کورنيو او بهرنيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



منابعو څخه پیسې یا هر راز مادي ګټې یا مرستې تر لاسه کړي احوال سره سم د اوږد بند په جزا محکومیږي.

**یو ویشتمه ماده:**

**د جګړې په وخت کې غیر قانوني سوداګري:**

۱- که چا د جګړې په وخت کې پخپله یا د خپل استازي په واسطه د افغانستان دموکراتیک جمهوري دولت سره په جګړه کې شامل بهرني دولت سره یا د هغه دولت په استازي سره په هر ځای کې چې استوګنه ولري د افغانستان دموکراتیک جمهوري دولت له موافقې څخه پرته د سوداګري اړیکې ټینګې کړي د جرم د موضوع د مالونو پر مصادره کیدو بر سیره د اوږد بند په جزا چې له لسو کالو څخه زیاته نه وي محکومیږي.

۲- که د دغې مادې د (۱) فقرې د مندرج جرم د موضوع شیان ضبط شوي نه وي محکمه د بیې په ورکولو هم حکم کوي.

**دوه ویشتمه ماده:**

**د جګړې په وخت کې د ژمنو له تر سره کولو څخه ډډه کول:**

۱- که چاد جګړې په وخت کې د وسله وال پوځ د اړتیاوړ موادو د واردولو یا رسولو په هکله له دولت سره د خپلې ژمنې د ټولې یا یوې برخې په تر سره کولو کې یا د اوسیدونکو د لومړنې اړتیا وړ خوراکې موادو کې په قصدي توګه خنډ واچوي، د اوږد بند په جزا محکومیږي.

۲- که د پورتنۍ فقرې مندرج جرمونه د هیواد د دفاعي ځواک یا دوسله وال پوځ دعملیاتو په کمزوري کولو منجر شي مرتکب یې د دوام بند په جزا محکومیږي.

۳- که څوک د جګړې په بهیر کې د ورسپارل شویو دندو له سرته رسولو څخه تعلل وښیي د منځنۍ بند په جزا محکومیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**در ويشتمه ماده:**

**د دښمن له پوځ سره مرسته کول:**

که څوک ځانته يا بل چاته د مادي يا معنوي ګټې د لاس ته راوړلو په منظور په مستقيمه يا غير مستقيمه توګه د دې قانون د موادو له مندرجو حالتونو څخه پرته د دښمن پوځ ته کوم خدمت سرته ورسوي د اوږد بند په جزا چې له لسو کالو څخه زياته نه وي محکوميږي.

**څلير ويشتمه ماده:**

**دولتي بيرغ او نښان ته سپکاوی:**

چا چې د علني وسيلو په يوه سره د افغانستان د دولت بيرغ يا نښان ته سپکاوی وکړی احوال سره سم د منځني بند په جزا محکوميږي.

**پنځه ويشتمه ماده:**

**د اخلاقي فساد په منظور د شيانو برابرول او خرڅول:**

۱- چا چې مطبوعات، مخطوطات رسمونه، سلايدونه، کليشې مجسمې انځور شوي تصاوير، رمزي اشاري او نور هغه شيان او تصاوير چې د عامه کلتور او آدابو سره توپير ولري د سوداګرۍ، ويشلو، اجارې، وړاندې کولو يا نښلولو په قصد جوړ کړی يا پخپل واک کې ولري برابر يا صادر او يا وارد يې کړي احوال سره سم له يوه څخه تر درې کاله پورې د بند په جزا محکوميږي.

۲- په هغه صورت کې چې د دې مادې د (۱) فقرې مندرج عملو نه د اخلاقي فساد په منظور صورت ونيسي احوال سره سم له يوه څخه تر پنځه کاله پورې د بند په جزا محکوميږي.

**شپږ ويشتمه ماده:**

**د فرهنګي او لرغونو اثرونو څخه ناروا ګټه اخيستل او غلا کول:**

۱- د فرهنګي او لرغونو اثرونو او قلمي اثرونو څخه ناروا ګټه اخيستنه او غلا کول يې او په عامه شتمنيو پورې مربوطو خپرونو تابلوګانو، مجسمو او نورو فرهنګي او لرغونو اثرونو څخه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخستنه او همدغه راز ليږدول، ورکول او په کرايه ورکول يې له يوه څخه تر درې کاله پورې د بند د جزا وړ دی.
۲- د فرهنګي اثرونو غلا کول، خرڅول، له منځه وړل يا په قصدي توګه ورانول يې د اوږد بند د جزا يا د تاوان د پوره کولو او انډول نغدي جريمې وړ دی.

**اووه ويشتمه ماده:**

**د کورني او بهرني امنيت پر ضد جرمونو په هکله خبر نه ورکول:**

که څوک وطن ته د خيانت، ترور، جاسوسی، ورانکاری، کار ماتولو، د جګړې د تبيلغاتي جرمونو، د دولتي ضد جرمونو د سازمانولو او باندیتيزم د ارتکاب په هکله باوري خبرتيا ولري او د وګړنيز حاکميت ارګانونو ته خبر ور نکړي د منځنی بند په جزا محکوميږي.

**اته ويشتمه ماده:**

**د دولتي ضد جرمونو او د ملي ګټو پر ضد د نورو جرمونو پټول:**

که څوک وطن ته د خيانت، جاسوسي، تروريستي، ورانکاری، کارماتولو، دولتي ضد عملونو د سازمانولو، باندیتيزم د پيسو او ارزښت لرونکو پانګو د جعل کولو د اټکل شويو جرمونو په هکله له مرتکبينو سره د مخکني توافق څخه پرته خبرتيا ولري او پټ يې کړي د منځني بند په جزا محکوميږي.

**نهه ويشتمه ماده:**

**له دی قانون سره سم له جزايي مسئوليت څخه معافيت:**

۱- که څوک د جرم له اتکاب څخه وروسته او د عدلي تعقيب نه د مخه دنده لرونکي مامورينو ته خبر ورکړي او د مرتکبينو يا د جرم د شريکانو بشپړه پيژند نه يا د جرم په کشفولو پوری مربوط نور د اړتيا وړ معلومات د دنده لرونکو مامورينو په واک کې کيږدي يا دا چې د مرتکبه جرم سره ورته د جرم مرتکبين اړوندو مقاموته ور وپيژني محکمه کولای شي د هغه په هکله مخففه احوال په پام کی ونيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- که خبرتیا د جرم د ارتکاب او پای ته رسیدونه د مخه اړوندو مقاموته ورسیږي خبر ورکوونکی له جزا څخه معاف کیږي.
۳- د پټولو او خبرنه ورکولو په حالت کې میړه، ماندینه، ماشومان او مور او پلار د جزایي تعقیب وړ نه گرځي.

**دیرشمه ماده:**

دا قانون په رسمي جریده کې د خپریدو له نیټې څخه وروسته نافذیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

جریدهٔ رسمی شمارهٔ (۶۴۹)

مؤرخ ۱۳۶۶/۷/۳۰ هـ. ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فرمان**

**هیأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان**

**شهر کابل**

**شماره : ۱۵۳**

**تاریخ : ۱۳۶۶/۵/۱۰**

**دربارهٔ تصویب قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خـارجی جمهـوری دموکراتیک افغانستان**

هـیـأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان به منظور تحکیم قانونیت و تنظیم بهتر احکام جـزائی در مـورد جرایم عـلیه امنیـت داخلی و خارجی به تأسی از حـکم مـادهٔ (٤٤) اصول اساسـی جمهـوری دموکراتیک افـغانستان تـصویب می‌دارد:

**مادهٔ اول:**

قـانون جـرایم علیـه امنیـت داخلـی و خـارجی جمهـوری دموکراتیـک افغانستان بداخل دو فصل و سی ماده تصویب است.

**مادهٔ دوم:**

تحقیق جرایم منـدرج ایـن قـانون بـه اسـتثنای مـواد(٢٥ و ٢٦) از طریـق ارگـانهای تحقیق وزارت امنیـت دولـتی صورت مـی‌گیـرد.

تحقیق جرایم ماده اول این قانون در حـدود صـلاحیت منـدرج مـاده دوم فرمان شـماره (١٧٧) مؤرخ ١٣٦٤/١١/٩ هیأت رئیـسه شـورای انقلابـی جمهوری دمـوکراتیک افغانستان در بارهٔ تصویب قانون جرایم عـسکری از طرف ارگانهای مـربوط صورت می‌گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ سوم:**

وزارت عدلیۀ جمهوری دموکراتیک افغانستان یکجا با وزارت امنیت دولتی و سایر ارگانهای حراست حقوق در ظرف مدت یکماه طرح تعدیل در قانون کشف و تحقیق جرایم و نظارت څارنوالی بر قانونیت تطبیق آن را مطابق این قانون تهیه و جهت تصویب به هیأت رئیسه شورای انقلابی ارائه نماید.

**مادۀ چهارم:**

وزارت عدلیه جمهوری دموکراتیک افغانستان مؤظف است در ظرف پانزده روز فهرست مواد قانون جزاء را که با انفاذ این قانون ملغی می‌گردد تهیه و به هیأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری دموکراتیک افغانستان ارائه نماید.

**مادۀ پنجم:**

این فرمان یکجا با قانون جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان تصویب و بعد از نشر در جریدۀ رسمی نافذ گردد.

**حاجی محمد څمکنی**

**سرپرست مقام صدر هیأت رئیسه شورای انقلابی جمهوری**

**دموکراتیک افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل اول

## جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی جمهوری دموکراتیک افغانستان

**مادهٔ اول:**

**خیانت بوطن (خیانت ملی) :**

۱– اعمال عمدی تبعهٔ جمهوری دموکراتیک افغانستان علیه حق حاکمیت مردمی، صیانت، تمامیت ارضی، استقلال و امنیت ملی و قابلیت دفاعی کشور می‌باشد که عبارت است از:

– پیوستن به دشمن، فعالیت مسلحانه علیه حاکمیت مردمی، جاسوسی، تسلیمی نیروها، واگذاری سلاح، تخنیک محاربوی، استحکامات و سایر وسایل پیشبرد جنگ، در اختیار گذاشتن معلومات حاوی اسرار دولتی و نظامی به کشورها یا سازمان ها یا گروه‌های ضد دولتی.

– تشریک مساعی و همکاری با کشور های خارجی یا سازمان ها یا گروه های ضد دولتی در اجرای فعالیت خصمانه شان علیه جمهوری دموکراتیک افغانستان.

– توطئه به منظور کسب قدرت دولتی.

– مرتکب جرم خیانت بوطن به جزای حبس دوام یا اعدام و مصادرهٔ دارایی محکوم می‌گردد.

۲– هرگاه تبعهٔ جمهوری دموکراتیک افغانستان که قصد ارتکاب جرایم مندرج در این ماده را داشته یا باکراه بارتکاب آن جرایم کشانیده شده باشد قبل از ارتکاب و تعقیب، داوطلبانه به مقامات دولتی اطلاع دهد از مجازات معاف می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ دوم:**

**جاسوسی:**

تسلیم دهی یا سرقت و یا جمع آوری معلومات حاوی اسرار دولتی به منظور تسلیم آن به دولت خارجی سازمان یا گروه ضد دولتی یا گماشتگان آنها، همچنان جمع آوری و تسلیم دهی سایر معلومات به دستور ارگانهای خدمات اطلاعات خارجی که از آن علیه جمهوری دموکراتیک افغانستان سوء استفاده به عمل آمده بتواند، مشروط بر اینکه این اعمال از جانب تبعۀ خارجی و افراد بدون تابعیت انجام یابد، مرتکب آن به جزای حبس دوام یا اعدام و مصادره دارایی محکوم می‌گردد.

**مادۀ سوم:**

**ترور:**

۱- شخصی‌که شخصیت دولتی، سیاسی، اجتماعی، مذهبی نمایندۀ دولت و سران قوم، قبیله و ملیت رابه ارتباط وظایف دولتی و یا اجتماعی‌شان به خاطر تخریب و تضعیف حاکمیت مردمی به قتل بر ساند مرتکب آن به جزای حبس دوام و یا اعدام و مصادرۀ دارایی محکوم می‌گردد.

۲- هرگاه شخص مندرج در فقره (۱) این ماده بنابر هدفیکه در آن درج است تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد مرتکب به جزای حبس از سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

**مادۀ چهارم:**

۱- هرگاه نمایندۀ دولت خارجی به منظور تحریک جنگ یا ایجاد تشنج در مناسبات دیپلوماتیک جمهوری دموکراتیک افغانستان با سایر کشورها بقتل برسد، مرتکب بجزای حبس دوام و یا اعدام و مصادره دارایی محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هـرگاه نمایندهٔ دولت خارجی بنـابر هدف مندرج در فقرهٔ فوق تحت فشار جسمی یا روانی قرار گیرد مرتکب به جزای حبس سه الی ده سـال محکوم می‌گردد.

**مادهٔ پنجم:**

**خرابکاری:**

۱- هرگاه شخصی به منظور تـضعیف حاکمیـت مردمـی و اقتـصاد ملـی توسط انفجار وحریق یا با وسایل دیگر مؤسـسات، خطـوط مواصـلاتی، وسـایط ترانـسپورتی، مخـابراتی و سـایر امـوال دولتـی، اجتمـاعی، کوپراتیفی و مختلط یا شخصی را تخریب نمـوده یـا صـدمه برسـاند یـا سبب پخش امراض اپیدیمی یا مسمومیت کتلوی گردد به جزای حـبس ده الی بیست سال محکوم می‌گردد.

۲- اگر در اثر ارتکاب اعما ل منـدرج فقـرهٔ (۱) ایـن مـاده تلفـات انـسانی بوجود آید یا منجر به معلولیت دایمی گردد یا خسارات هنگفت اقتـصادی یا عواقب وخیم دیگر بوجود آید مرتکب آن به جزای حبس دوام یا اعـدام محکوم می‌گردد.

**مادهٔ ششم:**

**سبوتاژ:**

۱- هرگاه شخصی با عمل عمدی یا غیر عمدی بـا اسـتفاده از مؤسـسات ادارات یا سازمان‌های اجتماعی یا خصوصی به منظـور تـضعیف قـدرت دولتی، صنعت، تجارت، ترانسپورت، زراعت، مالداری، نظام مالی، وسایل مخابرات و سایر رشته هـای اقتـصاد ملـی یـا فعالیـت هـای ارگـان‌هـای دولتی، سازمان‌هـای اجتمـاعی، کوپـراتیفی و مخـتلط یـا خـصوصی را مخـتل سازد یا از فعالیتهای عادی آنها جلوگیری نماید حسب احـوال بـه جزای حبس سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- هرگاه درنتیجه اعمال متذکره صدمه و زیان بزرگ متوجه اقتصاد ملی گردد مرتکب آن به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

**مادهٔ هفتم:**

**تبلیغ علیه دولت:**

۱- شخصی‌که به منظور تأمین اهداف خویش و تضعیف حاکمیت مردمی عمداً اخبار اعلامیه‌ها و اظهارات دروغ و افتراآت مغرضانه را نشر نماید یا به پرو پاگند تحریک آمیز یا تبلیغ شفوی و تحریری به هر وسیله که باشد بپردازد یا چنین نشرات را در حیازت خویش داشته باشد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

۲- اگر اعمال مندرج این ماده موجب اخلال نظام عامه و بی نظمی‌ها در جریان کار عادی ارگانهای دولتی، مؤسسات، سازمانها، ادارات یا منجر به تخریبات، غارت و آتش افروزی گردد و یا ارتکاب این جرایم نتیجهٔ تماس مخابراتی و غیره وسایل ارتباط با گروه های ضد دولت و یا با دولت خارجی طرف خصومت دولت افغانستان باشد مرتکب آن به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۳- اگر در نتیجهٔ ارتکاب اعمال مندرج این ماده اخلال نظم عامه به بار آید یا تلفات انسانی بوجود آید مرتکب آن به جزای حبس دوام یا اعدام محکوم می گردد.

**مادهٔ هشتم:**

**تبلیغ جنگ:**

شخصی‌که جنگ را به هر شکلی که باشد تبلیغ نماید حسب احوا ل به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ نهم:**

**فعالیت سازمانی بر علیه امنیت داخلی و خارجی:**

۱- شخصی‌که سازمان مخفی را بنام جمعیت، هیأت یا گروه به منظور ارتکاب جرایم مندرج فصل اول این قانون تأسیس، تنظیم یا اداره نماید به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

۲- شخصی‌که عضویت یکی از سازمانهای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده یا فرعی از فروع آنرا حاصل نماید به جزای حبس طویل محکوم می گردد.

۳- شخصی‌که خود یا توسط شخص دیگر به سازمانهای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به فرعی از فروع آن به منظور تأمین اهداف غیر مشروع ارتباط قایم نماید یا سبب تشویق و ارعاب اشخاص دیگر یا استفاده از فشار جسمی و روانی گردد حسب احوال به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

**مادهٔ دهم:**

**جرایم علیه مناسبات دیپلوماتیک افغانستان با کشورهای خارجی:**

هرگاه عمل شخصی به نحوی از انحا به مناسبات متقابله افغانستان با دول خارجی زیان و خساره وارد نماید به جزای حبس سه الی ده سال محکوم می‌گردد.

هرگاه عمل شخصی سبب قطع مناسبات دیپلوماتیک بین افغانستان و دول خارجی گردد مرتکب آن به جزای حبس دوام محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل دوم

## سایر جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

**مادهٔ یازدهم:**

**نقض تساوی حقوق ملی، مذهبی و نژادی:**

۱- شخصی‌که به تبلیغ یا ترویج به قصد تحریک خصومت و اختلافات ملی نژادی، مذهبی، قبیلوی و لسانی پرداخته یا به محدود ساختن حقوق یا تأمین برتری های اتباع بنابر تعلقات قومی، ملی، نژادی، مذهبی، قبیلوی و لسانی بپردازد به جزای حبس متوسط الی سه سال محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی‌که چنین اعمال موجب شورش یا بی نظمی بین اهالی گردد مرتکب آن به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

**مادهٔ دوازدهم:**

**سوق و اداره خود سرانه جزو تامهای قوای مسلح:**

شخصی‌که به قصد جرمی، قیادت جزو تامها و قطعات قوای مسلح و طیاره جنگی، را بدون امر مقام ذیصلاح و بدون سبب مشروع به دوش گیرد یا با وجود صدور امر دولت مبنی بر منع قیادت به عمل خود ادامه دهد یا اینکه قوماندان جزو تام قوای مسلح بعد از صدور امر مقام ذیصلاح راجع به گذاشتن سلاح، عساکر تحت اثر خود را مسلح و به حالت جمع نگه دارد به جزاء حبس دوام و یا اعدام محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ سیزدهم:**

**افشای اسرار دولتی:**

۱- شخصی‌که اسرار دولتی را که منحیث وظیفه به او سپرده شده یا حین اجرای وظیفه از آن آگاهی حاصل نموده بدون داشتن قصد خیانت بوطن افشاء نماید به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی‌که عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده عواقب سنگین را برای جمهوری دموکراتیک افغانستان در عرصه های اقتصادی، سیاسی و نظامی بار آورد مرتکب آن به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

**مادۀ چهاردهم:**

**مفقودی اسناد حاوی اسرار دولتی:**

۱- شخصی‌که اسناد حاوی اسرار دولتی یا اشیاییکه از جملۀ اسرار دولتی بوده و منحیث وظیفه بوی سپرده شده باشد به اساس عدم رعایت مقررا ت حفظ و نگهداری آنها مفقود نماید حسب احوال به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

۲- اگر جرم مندرج فقرۀ فوق عواقب سنگینی را به بار آورد مرتکب آن به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

**مادۀ پانزدهم:**

**غارت مسلحانه (باند یتیزم) :**

سازماندهی حملۀ مسلحانه بالای مؤسسات، ادارات دولتی، اجتماعی، تأسیسات اقتصادی، خصوصی، سهامی، مختلط و کوپراتیفی و اشخاص به منظور غارت و صدمه رسانیدن بشمول شرکت در گروپهای مسلح باندیتیزم نامیده می‌شود و مرتکب آن به جزای حبس دوام و یا اعدام محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادۀ شانزدهم:**

**گروگان گیری:**

۱- هرگـاه شخـصی دیگـران را بـه تهدیـد و عنـف و یـا بـه هـر وسـیله از وسایل دیگر گروگان بگیرد به جزای حبس طویـل و رد عـین مـال یـا قیمت پول و یا منفعتی را که به دست آورده باشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر شخص گروگان گرفته شـده مجـروح، معلـول و یـا مقتـول گـردد مرتکب به جزای حبس دوام یا اعدام و رد عین مـال یـا قیمـت پـول و یـا منفعتی را که بدست آورده باشد محکوم می‌گردد.

**مادۀ هفدهم:**

**نقض مقررات پـروازهـای بین المللی:**

هرگاه ورود و خروج از طریق فضای جمهـوری دموکراتیـک افغانـستان بدون اجازۀ رسمی و همچنین عدم رعایت خط السیرهای مشخص مجاز، محلات فرود آمدن دروازه‌های هوایی ارتفاع پـرواز یـا سـایر تخلفـات از مقررات پروازهای بین‌المللی صورت گیرد مرتکـب آن بـه جـزای حـبس متـوسط محکوم می‌گردد.

**مادۀ هجدهم:**

**اشغال غیر قانونی تأسیسات عامه:**

شخصی‌که با استعمال قوه به اشغال بناء های دولتی ، مؤسسات و دیگر اماکن که به منظور منفعت عامه اعمار گردیده اقدام نماید، حسب احـوال به جزای حبس طویل یا دوام محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ نزدهم:**

**جعـل پول و اوراق بـهـادار و ترویج آن:**

۱- هر گاه شخص به هر کیفیتی که باشد پول مروج در افغانستان، اسناد بهادار یا اسعار خارجی را جعل نماید به جزای حبس دوام محکـوم مـی-گردد.

۲- شخصی‌که با وجود علم، پول جعلی یا اوراق بهادار را تـرویج یـا بـه آن معامله یا به قصد ترویج یا معامله آنرا در حیازت خـود داشـته باشـد به جزای حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۳- شخصی‌که با وجود علم خود یا توسط شخص دیگری پول یـا اوراق بهادارجعلی رابه افغانستان داخل یا خارج نماید بـه جـزای حـبس طویـل محکوم می‌گردد.

٤- شخـصی‌کـه آلات، ادوات یـا وسـایل را بـه منظـور جعـل پـول و اوراق بهادار بسازد یا بکار برد یا بفروشد یـا بـه فـروش عرضـه نمایـد یا به اجـاره دهـد یـا در حیـازت خـود در آورد بـه جـزای حـبس طویـل که از ده سال کمتر نباشد محکوم می‌گردد.

**مادهٔ بیستم:**

**جمع آوری پول و کمک مادی به سازمانهای ضد دولتی:**

شخصی‌که خود یا توسط شخص دیگر به نحوی از انحا مبـالغ پـولی یـا هر نوع منفعت یا مساعدت مادی دیگر را از منابع داخلی و یا خارجی بـه منظور ارتکاب جرایم مندرج مواد این قانون بدست آرد، حسب احـوال به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ بیست و یکم:**

**تجارت غیـر قانونی در زمـان جنگ:**

۱- هرگـاه شخصی در زمان جنگ خود و یا توسـط نمایندهٔ خـویش بـا دولت خارجی داخـل جنـگ بـا دولـت جمهـوری دموکراتیـک افغانسـتان یا با نمـاینده دولت مذکور در هر جائیکه اقامت داشته باشد بدون موافقهٔ دولت جمهوری دموکراتیک افغانستان مناسـبات تجـارتی را قــایم نمایـد علاوه بر مصادرهٔ امـوال موضوع جرم به جزای حبس طویل کـه از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

۲- اگر اشیاء موضوع جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ضبط نگردیده باشد محکمه به تأدیهٔ قیمت آن نیز حکم نماید.

**مادهٔ بیست و دوم:**

**تعـلل از اجـرای تعهـدات در زمـان جنگ:**

۱- هرگــاه شخـصی در زمــان جنـگ بـه اجـرای تمــام یــا قـسمتی از تعهـدات خـود بـا دولـت مبنـی بـر توریـد یـا رسـانیدن مـواد مـورد ضرورت قوای مسلح یا مواد ارتزاقـی مـورد نیـاز اولیـه اهـالی را عمـداً خلل وارد نماید به جزای حبس طویل محکوم می‌گردد.

۲- اگـر جـرایم منـدرج فقـرهٔ فـوق منجـر بـه تـضعیف قـدرت دفـاعی کشور یا عملیات قوای مسلح گردد مرتکب به جزای حـبس دوام محکـوم می‌گردد.

۳- اگر شخص درجریان جنگ از اجرای وظـایف محولـه تعلـل ورزد بـه جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ بیست و سوم:**

**مساعدت به قوای دشمن:**

هرگاه شخص به منظور بدست آوردن منفعت مادی یا معنوی برای خود یا شخص دیگر به قوای دشمن طور مستقیم یا غیر مستقیم در غیر از حالات مندرج مواد این قانون خدمتی را انجام دهد به جزای حبس طویل که از ده سال بیشتر نباشد محکوم می‌گردد.

**مادهٔ بیست و چهارم:**

**توهین به بیرق و نشان دولتی:**

شخصی‌که توسط یکی از وسایل علنی بیرق یا نشان دولت افغانستان را توهین نماید حسب احوال به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

**مادهٔ بیست و پنجم:**

**تهیه و فروش اشیاء به منظور فساد اخلاقی:**

۱- شخصی‌که مطبوعات، مخطوطات، رسم‌ها، سلایدها، کلیشه ها، مجسمه ها، تصویر های نقش شده، اشاره های رمزی و سایر اشیا و تصاویریکه منافی کلتور و آداب عامه باشد، به قصد تجارت، توزیع، اجاره، عرضه، یا الصاق بسازد یا در حیازت خود داشته باشد و یا تهیه و یا صادر یا وارد نماید حسب احوا ل به جزای حبس از یک الی سه سال محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی‌که اعمال مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به منظور فساد اخلاقی صورت گیرد حسب احوال به جزای حبس از یک سال الی پنج سال محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ بیست و ششم:**

**سوء استفاده و سرقت آثار فرهنگی و باستانی:**

۱- سوء استفاده و سرقت از آثار فرهنگی و باستانی و آثار قلمی و استفاده از نشرات، تابلوها، مجسمه‌ها و سایر آثار فرهنگی و باستانی متعلق به دارایی عامه و همچنان انتقال، اهدا و کرایه دهی آن مستلزم جزای حبس از یک الی سه سال می‌باشد.

۲- سرقت، فروش، از بین بردن یا تخریب عمدی آثار فرهنگی مستلزم جزای حبس طویل یا جبران خساره و جریمهٔ نقدی معادل آن می باشد.

**مادهٔ بیست و هفتم:**

**عدم اطلاع دهی در مورد جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی:**

هرگاه شخصی دربارهٔ ارتکاب جرایم خیانت بوطن، ترور، جاسوسی خرابکاری، کار شکنی، تبلیغات جنگ، سازماندهی جرایم ضد دولتی، باند یتیزم، اطلاعات موثق داشته باشد و از آن به ارگانهای حاکمیت مردمی خبر ندهد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

**مادهٔ بیست و هشتم:**

**اخفای جرایم ضد دولتی و سایر جرایم علیه منافع ملی:**

هرگاه شخصی دربارهٔ جرایم پیشبینی شده خیانت بوطن، جاسوسی، تروریستی، خرابکاری، کار شکنی سازماندهی اعمال ضد دولتی، باند یتیزم، جعل پول و اوراق بهادار بدون توافق قبلی با مرتکبین اطلاع داشته باشد آنرا مخفی نگهدارد به جزای حبس متوسط محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مادهٔ بیست و نهم:**

**معافیت از مسئولیت جزایی بر طبق این قانون:**

۱- هرگاه شخص بعد از ارتکاب جرم و قبل از تعقیب عدلی به مامورین مؤظف اطلاع و شهرت کامل مرتکبین یا شرکای جرم یا سایر معلومات ضروری مربوط به کشف جرم را به دسترس مامورین مؤظف قرار دهد یا اینکه مرتکبین جرم مماثل جرم مرتکبه را به مقامات مربوطه معرفی کند محکمه می‌تواند احوال مخففه را در مورد او رعایت کند.

۲- اگر اطلاع قبل از ارتکاب و اتمام جرم به مقامات مربوط صورت بگیرد اطلاع دهنده از مجازات معاف می‌گردد.

۳- در حالت اخفاء و عدم اطلاع شوهر، زن، اطفال و والدین مورد تعقیب جزایی قرار نمی‌گیرد.

**مادهٔ سی ام:**

این قانون از تاریخ نشر در جریدهٔ رسمی نافذ می‌گردد.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**